شاعر: پوهاند عبدالحی حبیبی

۰۲ جون، ۲۰۲۶

# د پردیس پیغام

بامنونیت از دوست محترم خوشحال حبیبی



نسیمه لاړ شه، د وطن خوا ته
سلام مي وایه، خواږه اشنا ته
اوس به بهار وي، یاران به وزی
غرونو دښتو ته، ښکلي صحرا ته

نسیمه لاړ شه، ښکلي وطن له
اوښکي مي یوُسه، هر یو خوږمن له
د زړه کټري دِي، دا اوښکي ندِي
در سره یوُسه، دا قدرمن له

وخت د بهار دَی، غوټۍ به ګل کا
په پیمانو کې به، ګردش مل کا
څه ګریوانونه، به اوس څیرېږي؟
ځلمی به مست وی، شور به بلبل کا

ځلمی به شور، و شغب مستي کا
ډکې پیالې به، تشې دستې کا
د محبوبانو، په تورو زلفو
مستان به لوبې، دراز دستي کا

نسیمه ورشه، تر "ګلبهاره"
بیا ورو خرام که، تر "قندهاه"
که چا پوښتلې، ورته ووایه
پردیس نتلۍَ، پروت یم بیماره

وطن عزیز دَی، په زړه کې تل وي؟
بیلتون يې تریخ دی، ګران يې سَهَل وي
په بل وطن کې بهار څه خوند کا؟
بهار وِي هلته، چرته چه خپل وي

که زرغون باغ وي، ښکلې صحرا وي
ډک د خوبانو د ناز، ادا وي
د پردیسانو، سترګې په سوځي!
دوی په یادنه، د خپل اشنا وي!

زیبا وطنه، تل دِي بهار وه
ښکلي دِي غرونه، چمن، ګلزار وه!
پښتون دِي ښاد وه، په آزادی کې
هم ئې په لاس کې، "ملی اختیار" وه

(آزاد افغانستان ۱۸ ګنه، ۱۳۳۱)